د پیشرو خپرونه ۴۹ گڼه
۱۵ اپریل ۲۰۱۴

# مونږ څه لرو؟


تلیاد میرغلام محمد غبار

ژباړه: قسیم ودان


په ظاهره هرڅه! لکه وزارتونه، ریاستونه، بیلابیلي موسسي، معارف، سوداګري، څلورلاري، ټرانسپورت او سلګونه نور شیان. خو په مانا کي تقریباً هیڅ څه او یا هم لږ څه لرو. د ساري په توګه پرون مو نه درلودل، خو نن د کانونو وزارت لرو، خو دی وزارت په عمل کي څه کړي دي؟

تیل او سکاره او اوسپنه یي استخراج کړي که کوم بل څیز؟ ټول پوهیږو چي هیڅ یي نه دي کړي، یوازي څه یي چي کړي دي هماغه د حضرت نوح د دوري پاتي زړه مالګه یي د کچري پرځای له لاری سره انتقال او په لا لوړه بیه یي خلکو ته ورکړي ده. همدا شان مونږ په تیره پیړی کي د مالیي وزارت نه درلود او نن یي لرو خو څرنګه چي په تیرو کي د هیواد د کلني قطعي حساب په اړه نه پوهیدو، نن هم نه پوهیږو. د پرون او نن ترمنځ شته یوازینی توپیر دا دی، چي هغه وخت مستوفیان پر آسونو سپرېدل او پر توشک کښیناستل او نن د مالیي رئیسان په رنګه قلمونو بشکلي کاره واړه لاسلیکونه کوي او په څو متره موټرونو کي سپریږي. زمونږ د نوي تشکیلاتو بل او مهم کار دا دی چي هر یو د خپل اړوندي برخي د بیځایه پراختیا لپاره هڅي کوي. اتصالاً یي رنګارنګي شعبي د تدقیق، څانګري اړیکي او سمون، پرمختګ او لسګونو نور شیانو په نامه جوړي او سرګرځوونکي رتبي رامنځته کوي. تر دې کچه چي اوس په یوه ریاست کي څو لومړی، دویم، دریم او څلورم مرستیال او په یوه وزارت کي څو وزیران او مختاره وزیران او په یوه کابینه کي څو د دولت او ملت وزیران په یو بل غورځیدلي دي. پداسي حال کي چي هیواد نه کرنیز شوی او نه هم صنعتي. نه صادرات زیات شوي او نه واردات کم شوي دي، نه حکومت قانوني شوی، نه هم ولس باسواده شوی.

لاري وېجاړې، پلونه ړنګ، ټرانسپورت او لیږدونه کمه او صنعت د منځنی پیړی په شان، بیي لوړې او ولس بیوزله او خوار دی او کلونه کیږي چي زمونږ دغه پراخه او نومیزه تشکیلات د لقبونو په ټاکلو او د ودانیو په رنګ او سمبالولو بوخت دی او په میاشتو میاشتو په یوه مقام کي د یوه عالي جناب پر ګومارلو تودي خبري کوي. کله هم د چیراسیانو د جامو ډول تعدیل او د مستخدمینو خولی له مربعي څخه دري څنډي ته بدلیږي. خو نه کوم کان وکیندل شو، نه کوم نهر جوړ شو، نه کومه فابریکه راوارده شوه او نه هم کوم بند جوړ شو. خو کله هم په جریدو کي په بیساري او مسخره ډول اعلانیده چي د دولت (یعني ملت( پلانکی فابریکه ملي شوه) یعني پلانکي شخص ته په ارزانه بیه وپلورل شوه، نو شخصي مال شو. )

ښه نو، زمونږ د دغه بی خبری لامل څه دی؟ و به وایاست چي دوه شیان، یا د حکومت مدیره پلاوي نه دې غوښتلي چي مونږ یو څه ولرو او یا یي غوښتلي خو توانیدلي نه دي او ځکه چي استعفا یي نه ده ورکړې نو په دواړو حالتونو

کې د ولس او هیواد د تاریخ په وړاندې مسوول دي. خو زمونږ په آند اصلي لامل له دې هم ژور دی او هغه دا دی چې اصلاً زموږ اداري ماشین چپه او ناسم تړل شوی دی. د بیلګې په ډول، که د ځمکې پر مخ د وزیرانو عقل د دې ماشین له یوې دروازې دننه کړئ، یو کال وروسته هغه له بلې دروازې سترې، ناکامه او بدنامه وځي. دا ځکه چې د یوه حکومت د ماشین تړل په کراتو د یوه ساعت د ماشین له تړلو ډېر لوی او مهم کار دی او لا زیات علم او پوهې ته اړتیا لري. هغه علم او پوهه، چې د بشریت د بېپایه او څو زره کلنې تجربې پایله ده او د حقوق او اداري علم په نامه د نړۍ خلکو په واک کې ایښودل شوې ده. مثلاً که د یوه ساعت پرزې د لویو پروفیسرانو لخوا چپه او ناسمې وتړل شي، آیا کار کوي؟ د دې علم ماحصل کولای شو د «دیموکراسي اصولو» په جمله کې خلاصه کړو، یعنې د درې ګونو ځواکونو جلاتوب، د قانون حکومت، د ملت په وړاندې د کابینې مسوولیت، د ملت آزادي او مساوات او د ټولنې په چارو کې ګډون. نو تکرارو، چې زمونږ د شاته پاتې کېدنې او بېخبرۍ علت زمونږ په اداري ډول کې د دیموکراسی د آرونو نه رعایت دی او بس. او ترڅو چې مونږ د دغې بنسټ د ټینګښت لپاره د زړه له کومې او په ګډ قوت هڅه ونکړو، نه یوازې دا چې د هیڅ شي مالک به نشو، بلکې د دې خطر شته چې هغه څه چې لرو هم له لاسه ورکړو. نو زموږ د منورینو او ملي جرائدو لومړنی دنده هماغه د دیموکراسی د آرونو تبلیغ او د مطلقیت او زورواکۍ د پاتې شونو پر ضد مبارزه ده او بس.

سرچینه: «ندای خلق»، دریمه ګڼه، لومړی کال، د ۱۳۳۰ کال د وری ۱۹ مه